ما ته پنځه شيان راکړل شوي دي چې له ما څخه مخکې هيڅا ته نه وو ورکړل شوي

له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «ما ته پنځه شيان راکړل شوي دي چې له ما څخه مخکې هيڅا ته نه وو ورکړل شوي: ماته په ويره بريا راکړل شوې؛ زه چې کوم ځای ته ځم نو د يوې مياشتې د مزل په اندازه مې رعب هلته مخکې رسيدلی وي، او ټوله ځمکه زما لپاره جومات او پاک ځای ګرځېدلی، نو زما له امت څخه چې په هر چا د لمانځه وخت راغی نو لمونځ دې وکړي، او ماته غنيمت روا شوی چې زما نه مخکې هيڅا ته نه و روا، او ماته شفاعت راکړل شوی او دا چې هر نبي به خاص خپل امت ته لېږل کېده او زه ټولو خلکو ته لېږل شوی يم».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې الله تعالی هغه ته پنځه ځانګړتياوې ورکړي دي چې له هغه وړاندې هېڅ نبي ته نه دي ورکړل شوي. لومړی دا چې: زه په ويرې سره بريالی شوی يم، داسې چې زما د دښمنانو په زړونو کې ويره لوېږي، که څه هم زما او د هغوی تر منځ د يوې مياشتې په اندازه واټن وي. دويم: زما لپاره ځمکه جومات ګرځول شوې ده، چېرته چې وو هلته لمونځ کوو، او دا چې خاوره پاکه ده کله چې اوبه نه وي (نو تيمم پرې کوو). دريم: مور ته د جنګ غنيمتونه حلال ګرځول شوي، کوم چې مسلمانان له کفارو سره په جګړه کې تر لاسه کوي. څلورم: ما ته د قيامت په ورځ - د خلکو له ويرې څخه د خلاصون لپاره - تر ټولو ستر شفاعت راکړل شوی دی. پنځم: زه ټولو خلکو؛ انسانانو او پېريانو ته لېږل شوی يم، د پخوانيو پېغمبرانو پر خلاف چې هغوی به يوازې خپلو قومونو ته لېږل کېدل.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3503